# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ
څوارلسم کال، ۱۶۶ گڼه د ۱۴۰۰ د وری میاشت




تدویر جلسه آنلاین با رییس صندوق بین المللی پول برای کشور های آسیای میانه



د ترکمنستان –افغانستان او پاکستان د بریښنا لین ( TAP ) پروژې په اړه غونډه



## صندوق بین المللی پول طی ارزیابی، از اصلاحات مالی و اقتصادی افغانستان استقبال نمود

# تسهیلات اخذ جواز های شرکتی صرافی:

- **مالیه ثابت:** که در تفاهم با وزارت محترم مالیه و اتحادیه صرافان نهایی میگردد؛
- **بیلانس:** لازم نیست که بیلانس خویش را به د افغانستان بانک گزارش دهید؛
- **هیئت نظار:** ضرورت به شش نفر ندارید تنها مالک جواز میتواند هیئت نظار باشد؛
- **تاریخ انقضا:** صدور جواز شرکت صرافی و خدمات پولی بدون تاریخ انقضا؛
- **افتتاح نماینده‌گی:** اعطای اجازه افتتاح نماینده‌گی ها در تمام ولایات کشور؛
- **تضمین نقدی:** عدم اخذ تضمین نقدی در قبال صدور جواز شرکتی؛
- **تضمین سر:** عدم اخذ تضمین سر بمنظور ایجاد شرکت های صرافی و خدمات پولی؛
- **فیس صدور جواز:** عدم اخذ فیس صدور جواز فعالیت، تبدیل جواز انفرادی به شرکت و ایجاد نمایندگی داخلی و خارجی؛
- **امتیاز خدمات جانبی:** اجازه عرضه خدمات جانبی (cross selling)؛
- **امتیاز نماینده‌گی خارجی:** اخذ امتیاز نماینده‌گی خارجی مانند منی گرام و ویسترن یونین؛
- **اجرای حواله جات:** اجرای حواله جات توسط نماینده در مناطق که نماینده گی فعال شرکت و سایر فراهم کنندگان خدمات پولی موجود نمی باشد و
- **سهولت در لیلام اسعار:** درخواست خرید ۵٪ از مجموع لیلام اسعار دافغانستان بانک.



## د دې ګڼې مطالب


تدویر جلسه آنلاین با رییس صندوق بین المللی پول برای کشور های آسیای میانه

په ۱۴۰۰ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالی د شریعه بورد...

د امریکا د سیټي بانک له چارواکو سره آنلاین غونډه جوړه شوه

د ترکمنستان – افغانستان او پاکستان د برېښنا لین (TAP) پروژې په اړه غونډه

صندوق بین المللی پول طی ارزیابی، از اصلاحات مالی و اقتصادی افغانستان استقبال نمود

دیدار سرپرست د افغانستان بانک با هیئتی از اتاق صنایع و معادن افغانستان

محترم اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک با سفیر کشور ترکمنستان دیدار نمود

اشتراک محترم اجمل احمدی در مراسم امضای پلان امنیتی پروژه TAPI

سویفت؛ سریعترین سیستم ارسال و دریافت پول

په ویاړ سره، د ملي کولو پر خوا

ماني ګرام او د هغه کارونه

د افغانستان لپاره د هوایي دهلېزونو اهمیت او موخې

ویسټرن یونین او د هغې کارونه

اقتصادي خبرونه

پیامد صلح؛ پیشرفت، ترقی و توسعۀ اقتصادی

تعلیم و تحصیل؛ محرک رشد و توسعه اقتصادی

څنګه باید شتمن او له اقتصادی بسیاینې برخمن شو؟

ټاپي د سیمې هېوادونه له تقابل تر تحمل رسوي

په ننګرهار کې د پانګې اچونې لپاره شته فرصتونه

حفاظت درست از بانکنوت ها وظیفه همه ماست



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: حمید الله رضایی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحۀ الکترونیکی: www.dab.gov.af




شمارۀ ثبت: ۶۵۸



مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank

# تدویر جلسه آنلاین با رییس صندوق بین المللی پول برای کشور های آسیای میانه




۲۳ حمل ۱۴۰۰ – محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک طی یک ویدیو کنفرانس با رییس صندوق بین المللی پول برای کشور های آسیای میانه از چگونگی تحقق تعهدات افغانستان در زمینه تطبیق برنامه های مشترک اقتصادی ارائه معلومات نمود.

قابل یادآوری است که در این جلسه هر دو طرف پیرامون ادامه اصلاحات ساختاری، تقویت اقتصاد کلان و توسعه پالیسی ها، رشد و توسعه اقتصادی کشور در سال های آینده، کاهش تورم، نرخ ارز، تقویت همکاری های منطقه ای، کاهش فقر و شماری دیگر از موضوعات مهم نیز بحث نمودند.

همچنان، صندوق بین المللی پول و طرف افغانستان جهت زمینه سازی برای ایجاد ثبات مالی و اقتصادی روی شماری از شاخص های اقتصادی بحث و تبادل نظر نموده و در این بخش به همکاری های یک دیگر تأکید نمودند. قابل یادآوری است که در این جلسه معین مالی وزارت محترم مالیه نیز اشتراک نموده بود.

# په ۱۴۰۰ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ د شریعه بورد لومړۍ غونډه







۱۴۰۰ کال د وري ۲۸ مه – د ۱۴۰۰ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ د شریعه بورد لومړنۍ غونډه د شریعه بورد د رئیس ښاغلي فضل الرحیم بصیرت او د دې بورد د غړو هر یو ښاغلي ډاکتر نور عباد او پروفیسور محمد اکرام لال الدین په ګډون جوړه شوه.

د غونډې پیل د افغانستان بانک د سرپرست ښاغلي اجمل احمدي په وینا وشو چې په اوږدو کې یې ښاغلي احمدي د دودیزې بانکوالۍ تر څنګ د اسلامي بانکوالۍ پر ارزښت، د اسلامي بانکوالۍ د محصولاتو او خدمتونو پر څرنګوالي او په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.

ورپسې د آجنډا مطابق، په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ په برخه کې د یو شمېر پالیسیو او کړنلارو، د بانکونو له لوري د اسلامي بانکوالۍ د محصولاتو او خدمتونو په برخه کې د تنوع په رامنځته کولو او د اسلامي بانکوالۍ د لا زیاتې پراختیا او یو شمېر نورو ورته موضوعګانو په اړه د نظرونو تبادله تر سره شوه او په دې اړه لازمې پرېکړې وشوې.

# د امریکا د سیټي بانک له چارواکو سره آنلاین غونډه جوړه شوه




۱۴۰۰ کال د وري ۲۳ مه — د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي اجمل احمدي د امریکا د سیټي بانک له چارواکو سره آنلاین غونډه جوړه کړه.

دا غونډه له نړیوالو مالي ادارو او مؤسسو سره د اړیکو د پیاوړتیا او تنظیم او همدا ډول د معلوماتو او تخنیکي همکاریو، بانکي اړیکو د پیاوړتیا، د تجربو شریکولو او همدارنګه د افغانستان په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د پورونو په ورکړه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو او د هېواد د اقتصادي پراختیا او پرمختګ په موخه جوړه شوې وه.

د غونډې په پیل کې د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي اجمل احمدي د افغانستان د ټولیز اقتصادي وضعیت په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل او له افغانستان سره یې د سیټي بانک په ځانګړې توګه د بانکوالۍ په برخه کې له مخکنیو همکاریو مننه وکړه او په دې برخه کې یې پر لا ډېرو همکاریو او د اړیکو په پراختیا ټینګار وکړ.

د سیټي بانک استازو په دې غونډه کې له افغانستان سره د هر ډول تخنیکي همکاریو، د معلوماتو او تجربو د شریکولو او اغېزناکو بانکي اړیکو د پراختیا ژمنه وکړه او په دې برخه کې یې د تیارۍ ډاډ ورکړ.

# د ترکمنستان – افغانستان او پاکستان د برېښنا لین ( TAP ) پروژې په اړه غونډه





۱۴۰۰ کال د وري ۲۳ مه – د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي اجمل احمدي د ښارجوړونې او ځمکو وزارت له وزیر ښاغلي محمود کرزي سره د ترکمنستان – افغانستان او پاکستان د برېښنا لین د لیږد پروژې په اړه جوړه شوې غونډه کې خبرې وکړې او د نظرونو تبادله تر سره شوه.

په دې غونډه کې د TAP پروژې په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې او تمه کېږي چې دا پروژه به د روان زیږدیز کال د آګست په میاشت کې له تاپي او د تورغنډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژو سره یو ځای ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

پاتې دې نه وي چې په دې غونډه کې د ښار جوړونې او ځمکو وزارت مرستیال، د کانونو او پترولیم وزارت نماینده، د افغانستان برېښنا شرکت عملیاتي رئیس او د چالیك شرکت نماینده هم ګډون کړی وو.

# صندوق بین المللی پول طی ارزیابی، از اصلاحات مالی و اقتصادی افغانستان استقبال نمود




۲۶ حمل –۱۴۰۰هیئت صندوق بین المللی پول با نشر خبرنامه ای از تکمیل نخستین دور ارزیابی برنامه جدید تمدید تسهیل کریدت (ECF) برای افغانستان خبر داده و آنرا موفقانه توصیف نمودند. قرار است این گزارش جهت بازنگری و منظوری در ماه جون ۲۰۲۱ میلادی به بورد اجرائیوی صندوق بین المللی پول پیشکش گردد که در پی آن کمک ۱۴۷ میلیون دالر امریکایی را به افغانستان در قبال خواهد داشت.

تیم ارزیابی صندوق بین المللی پول تحقق تعهد افغانستان در قبال ایجاد اصلاحات ساختاری اقتصاد افغانستان را با مقامات افغانی به بحث گرفته و از عملکرد افغانستان در عرصه مدیریت محتاطانه برنامه های اقتصادی کشور در شرایط چالش برانگیز حاکم بخصوص در جریان قرنطین ناشی از شیوع وایروس همه گیر کرونا و همچنان پیشرفت های خوب در زمینه استحکام نظام مالی افغانستان توصیف بعمل آوردند.

محترم اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک با اشاره به ارزیابی موفقانه افغانستان از سوی صندوق بین المللی پول در امر اصلاحات مالی و اقتصادی ابراز خُرسندی نموده، تعهد سپرد تا در زمینه ثبات اقتصاد کلان، اصلاحات سکتور مالی و بانکی، مدیریت موثر ذخایر ارزی و ازدیاد آن، مبارزه علیه جرایم مالی، پولشویی و تمویل تروریزم، مبارزه با فساد اداری و تقویت سکتور خصوصی بمنظور ایجاد کار و رشد اقتصادی افغانستان بیشتر از پیش تلاش نماید.

# دیدار سرپرست د افغانستان بانک با هیئتی از اتاق صنایع و معادن افغانستان



۲۹ حمل ۱۴۰۰ – محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با هیئتی از اتاق صنایع و معادن افغانستان دیدار نموده و روی تسهیل برنامه های قرضه دهی از سوی بانکها برای صنعت کاران و تشبثات کوچک و متوسط صحبت نمودند.

ابتدا، محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در زمینه تسهیل روند قرضه دهی از سوی بانکهای تجارتی، دیجیتل سازی تادیات بمنظور پرداخت مالیات در کوتاه ترین وقت و بشکل مصون و مطمئن و نیز نقش آن در رسمی سازی اقتصاد کشور و جلوگیری از فساد صحبت نموده، وعده سپرد تا در این راستا از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزد.

متعاقباً، محترم رحیم الله سمندر رییس اتاق صنایع و معادن افغانستان ضمن بحث روی نقش سکتور صنعت در رشد اقتصادی افغانستان گفت که ما از تلاش های محترم احمدی زمانیکه در کرسی وزارت صنعت و تجارت بودند و تفاهمنامه ای سه جانبه را که برای اولین بار با بانک ملی افغان و صنعت کاران به امضا رسانید که بر اساس آن قرضه با تکتانه کمتر برای صنعت کاران فراهم شد، فراموش نمیکنیم.

هیئت اتاق صنایع و معادن افغانستان از کارکرد ها و زحمات محترم اجمل احمدی در بخش های اقتصادی بخصوص توسعه و انکشاف سکتور بانکی ابراز قدردانی نموده و لوح تقدیری را به ایشان تفویض نمود.

# محترم اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک با سفیر کشور ترکمنستان دیدار نمود




حمل ۱۴۰۰- محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک طی جلسه ای با سفیر کشور ترکمنستان دیدار نموده و روی موضوعات مختلف اقتصادی، روابط تجارتی دو کشور و فعالیتهای بانکی و مالی بحث و تبادل نظر نمودند.

این جلسه به منظور تحکیم و تنظیم روابط با ارگانها و مؤسسات بین المللی و منطقوی بمنظور تشریک معلومات جهت طرح و تدوین پالیسی های معقول پولی و مالی برگزار گردیده و طی آن روی همکاری های تخنیکی، تشریک معلومات و تجارب بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم اجمل احمدی ضمن قدردانی و امتنان از حسن نیت کشور دوست ترکمنستان وعده سپرد که افغانستان منحیث یکی از شرکای مهم ستراتیژیک منطقه با شما همواره همکار بوده و در تطبیق و راه اندازی پروژه های بزرگ اقتصادی که موجب رفاه، آسایش، ترقی و تعالی افغانستان و کشور های منطقه می شود، از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نخواهد ورزید.

# اشتراک محترم اجمل احمدی در مراسم امضای پلان امنیتی پروژه TAPI



محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در مراسم امضاء پلان امنیتی پروژه خط لوله گاز ترکمنستان به پاکستان و هند از طریق افغانستان (TAPI) که در دفتر شورای محترم امنیت ملی کشور به امضا رسید، اشتراک نمود.

در ضمن به تاریخ ۲۶ حمل ۱۴۰۰ محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با محترم هوجه اویزوف سفیر کشور دوست ترکمنستان مقیم کابل و محترم محمد مراد امانوف رئیس اجرائی پروژه تاپی در کابل تدویر جلسه نموده در مورد پیشرفت های اخیر پروژه تاپی صحبت های همه جانبه نمود.

# سویفت؛ سریعترین سیستم ارسال و دریافت پول

سویفت (SWIFT) عبارت از یک انجمن تعاونی غیر انتفاعی است که جهت ارتباطات مالی بین البانکی در ماه می ۱۹۷۳ میلادی توسط ۲۳۹ بانک مربوط به پانزده کشور اروپایی و امریکای شمالی راه اندازی شد. هدف از ایجاد این سیستم عبارت از بکارگیری روش های ارتباطی جدید و ستندرد به عوض شیوه های غیر ستندرد کاغذی در سطح جهانی می باشد.

مرکز سویفت در بلجیم قرار داشته و کشورهای نظیر امریکا، انگلستان، هالند و هانگ کانگ بحیث اعضای پشتیبان این سیستم فعالیت دارند. این سیستم در هر کشور دارای یک حلقهٔ وصل یا نقطهٔ دسترسی است که توسط سویفت کنترول و اداره می گردد.

این سیستم بخاطر ارسال و دریافت هرگونه پیام های ارزی در میان واحد های ارزی بانک های داخل یک کشور و بانک های خارج از آن مورد استفاده قرار می گیرد. از سیستم سویفت بخاطر سرعت بخشیدن به انجام معاملات ارزی، جلب رضایت مشتریان و هماهنگی تمام عملیات ارزی در سطح جهان با یک نرم افزار ستندرد استفاده صورت می گیرد.

سیستم سویفت به شکلی طرح ریزی گردیده که امکان برقراری ارتباط میان دو بانک و انجام تمام مراحل حسابداری نظیر بدهکاری و طلب حساب های ذیربط،

»



بدون دخالت نیروی انسانی امکان پذیر می باشد که انجام این گونه عملیات بطور سنتی تا چند ماه امکان پذیر نمی باشد. رشد چشم گیر سویفت در نظام بانکی عبارت از دارا بودن سیستم بهره گیری در تسویهٔ معاملات ملی و بین المللی است.

در این سیستم، علاوه بر اینکه هر نوع امور بانکی یک پیام مشخص و تعریف شده دارد، مزایای ذیل را نیز با خود به همراه دارد:

- شناسایی سریع پیام ها
- جلو گیری از ضیاع وقت حین متن پیام های بانکی
- تنظیم متن پیام های بانکی با سرعت بالا
- جلوگیری از اختلاف سلیقوی در تنظیم متون پیام های بانکی
- ایجاد پیام های جدید بین المللی بانکی
- قابلیت دست یابی، اطمینان، کاهش مصارف، تسویهٔ سریع حساب های روزانه و غیره

این سیستم طوری طراحی شده که فیصدی اشتباه در آن بسیار کم است. در صورتیکه پیام ها مطابق استندرد نباشد، سیستم سویفت آنرا نپذیرفته و عاجل رد می کند. در چوکات این سیستم، اجرای معاملات مالی ۹۹/۹۹ درصد مطمئین بوده و از اول فعالیت این سیستم تا حال هیچ پیامی از آن مفقود نگردیده است.

سیستم سویفت از امنیت بالای برخوردار می باشد. در این سیستم پیام ها بشکل خود کار مخابره شده، غیر از افراد مسئول کس دیگر به آن دسترسی ندارد. در سیستم سویفت، عمل رمزدهی و کشف رمز به شکل خود کار انجام می گیرد و در نهایت پیام تحویل شده مطابق به پیام دریافتی می باشد.

در سیستم سویفت دستگاهی بنام Encriotor وجود دارد که توسط آن پیام ارسال شده از حالت خوانا بودن خارج شده و وارد شبکهٔ مخابراتی بین المللی سویفت می گردد. در این صورت اگر کسی به پیام های سویفتی دسترسی هم داشته باشد، قادر به خواندن پیام نمی باشد.

در سیستم سویفت، انتقال پیام خیلی سریع بوده، چند ثانیه بیشتر وقت نمی گیرد. پیام بعد از آخرین امضاء بلا فاصله تحویل سویفت می گردد. این سیستم در جریان ۳۶۵ روز بدون تعطیلی شبانه روزی کار می کند.

قابل یا آوریست که افغانستان در سال ۲۰۰۳ عضویت سویفت را از مرکز آن که در بلجیم است، اخذ نمود. سیستم سویفت یک نمایندگی برای یک تعداد کشور ها در دبی نیز دارد که افغانستان جهت اجرای عرضهٔ خدمات پولی به مرکز دبی وصل می باشد. در حال حاضر، با استفاده از این سیستم در افغانستان تمام معاملات به شکل آنلاین تعقیب می گردد. به همین ترتیب سیستم تادیات در افغانستان مصون شده و در کنترول پول شویی نیز رول عمدهٔ را ایفاء می نماید. از زمانیکه سیستم سویفت در نظام بانکی افغانستان رواج یافته، سهولت های زیادی حین انتقالات پول به مشتریان فراهم شده است.

عبالحفیظ شاهین

منابع:

۱-https://sepahanhamrah.com/swift/ سویفت چیست و چه کار بردی دارد؟

۲-https//:www.delgarm.com/general/business/17 همه آن چیز در مورد سویفت بدانید/ تاریخ نشر ۹ / ۲ /۱۴۰۰

۳-https://moshaveranco.com/ عنوان / سوئیفت چیست/ نویسنده مریم کریمی


# په وياړ سره، د ملي کولو پر خوا

د AfPay کارتونو د وېش د لړۍ د پيل په اړه د ښځو چارو وزارت د سرپرستې آغلې حسينه صافی پيغام!

د خوښۍ ځـای دی چې د AfPay کارتونو د وېش لړۍ د ښځـو چـارو لـه وزارت څخه پيل شوه. له دې وروستـه د ښځو چارو وزارت ټـول کـارکـوونـکـي کولای شي د هېواد په ټولو برخو کې د ATMماشينونو له لارې پيسې واخلي.

همدارنګه د دې کارتونو لرونکي بـه پـه نږدې راتلونکې کې د دې وړتـيـا ولـري چې د برېښنا بِل او د ادائينو نور ټول بِلونه د همدې کارت له لارې ادا او پر مټ يې له لويو او کوچنيو هټيو پېرنه وکړي.

بايد يادونه وشي چې اف پـې AfPay کارت له يو حساب څخه بل حساب ته د پيسو د لېږد آسانتيا هم برابروي.●



# اطلاعیه!

فراهم کنندگان خدمات پولی حین تبادله اسعار و نقد سازی چک موارد ذیل را در بگیرند.

۱. فراهم کنندگان خدمات پولی و صرافان مکلف اند معلومات و اسناد در مورد معاملات تبادله اسعار را اخذ، ثبت و نگهداری نمایند.

۲. در صورتیکه مبلغ تبادله اسعار مشتری مساوی یا کمتر از پنجصد هزار ( ۵۰۰۰۰۰) افغانی یا معادل آن به اسعار باشد، فراهم کنندگان خدمات پولی و صرافان حد اقل معلومات و اسناد ذیل را جهت تثبیت هویت مشتریان از ضمیمۀ شماره ۱ مقررۀ نهادهای پول الکترونیکی کسب نمایند:

ضمیمه ۱. فراهم کنندگان خدمات پولی و صرافان مکلف اند معلومات و اسناد در مورد معاملات مبادله اسعار و نقد سازی چک را اخذ نمایند.

۱. در صورتیکه شخص حقیقی باشد:

- اسم مکمل مشتری
- شماره تماس

۲. در صورتیکه شخص حکمی باشد:

- نام و آدرس مکمل شرکت
- شهرت شخص صلاحیت دار اجراء تبادله
- شناخت ماهیت تجارت و فعالیت مشتری
- شهرت سهداران و مسئولین کلیدی شرکت
- تثبیت تایید هویت مالکین واقعی آن با استفاده از مدارک و معلومات موجود از منابع معتبر ( در صورت امکان)

۳. معلومات و اسنادی را که خدمات پولی در هر معامله نقد سازی چک اخذ، ثبت و نگهداری می نماید، شامل موارد آتی می گردد:

- اسم و معلومات مشتری حسب مادۀ ۳۰ این مقرره؛
- مبلغ و نوع سعر قابل پرداخت؛
- تاریخ معامله و نرخ تبادله؛
- فیس یا کمیشن؛
- آدرس مشتری؛
- شماره تماس مشتری؛ و
- منبع صادر کنندۀ چک






# ماني ګرام او د هغه کارونه

آیا تر اوسه مو بهرنیو هېوادونو کې یو چا ته د پیسو پر لېږد فکر کړی؟ که مو فکر کړی وي، لومړی لاره یې چې ستاسو ذهن ته درځي بانکي حواله ده. تاسو کولای شی چې پر مټ یې یو چا ته له هېواده بهر ته پیسې واستوئ، نو دې ټکي ته په کتلو سره هغه کس چې تاسو غواړی ورته پیسې واستوئ په کار ده چې په بانک کې اکونټ ولری او شونې ده چې د پیسو د لېږد پروسه یې هم څو ورځې وخت ونیسي.

موږ په دې لیکنه کې د پیسو د لېږد پر یوه داسې سیستم خبرې کوو چې پر مټ یې په بیړنۍ توګه کولای شئ، د نړۍ نږدې ټولو هېوادونو ته له دې چې د پیسو تر لاسه کوونکی شخص په بانکونو کې حساب ولرئ پیسې واستوی او هغه ترلاسه کړئ چې په اړه یې معلومات په لاندې ډول وړاندې کېږي:

**ماني ګرام:** ماني ګرام یو امریکایي شرکت دی چې په ۱۹۴۰ زیږدیز کال کې جوړ شو. د دې شرکت د جوړېدو موخه په نړۍ کې په چټک ډول د پیسو د لیږد را لیږد تر سره کېدل ښودل شوي دي. ماني ګرام د پیسو د لېږد را لېږد له نورو »

سیستمونو او له د پخوانۍ بانکوالۍ سره بشپړ توپیر لري. په دې سیستم کې له ساده او چټک لېږد څخه کار اخیستل شوی دی.

د دې سیستم آسانتیا او ښه والی په دې کې دی چې د مانې ګرام له لارې د پیسو د لېږد پر مهال تاسو کولای شئ، د هغه شخص په اړه چې تاسو غواړئ پیسې ورته واستوی د مانې ګرام د څانګې استازي ته ورکړئ او اخیستونکی هم د خپلو اسنادو پر وړاندې کولو سره کولای شي چې د مانې ګرام څانګې ته په ورتګ سره خپلې پیسې تر لاسه کړي.

په دې سیستم کې د پیسو لېږد په ډېرې چټکۍ سره تر سره کېږي. مانا دا چې د پیسو لېږونکی شخص کله چې د مانې ګرام اړوندې څانګې ته خپلې پیسې سپاري اخیستونکی شخص کولای شي په همغې شېبه کې یې په اړوند هېواد کې د مانې ګرام د شرکت له اړوندې څانګې څخه خپلې پیسې تر لاسه کړي.

دا سیستم له هغو کسانو سره ډېره مرسته کولای شي چې په بانکونو کې حسابونه نه لري. د مانې ګرام له لارې د پیسو د لېږد او را لېږد چاره د کوم بانکي حساب شتون ته اړتیا نه لري، بلکې یوازې د هغه کس په اړه معلوماتو ته اړتیا ده چې غواړی ورته پیسې ولېږئ.

مانې ګرام دا مهال د نړۍ په ۲۰۰ هېوادونو کې فعالیت لري او په یادو هېوادونو کې یې ۳۵۰ زره استازولۍ فعالې دي او د نړۍ په زیات شمېر لویو ښارونو کې یې خلک له چوپړونو برخمنې دي. لکه څرنګه چې مخکې یې یادونه وشوه، د مانې ګرام له سیستم څخه په ډېرې آسانۍ سره ګټه اخیستل کېدای شي او د زیاتو پړاونو د تر سره کولو اړتیا په کې نشته. د مانې ګرام له لارې په دوو طریقو یعنې فزیکي او انترنیتي ډول د پیسو د لېږد چاره تر سره کېدای شي:

په فیزیکي ډول د پیسو د لېږد لپاره لازمه ده چې د مانې ګرام نمایندګۍ ته په ورتګ سره د دې نمایندګۍ د استازي له لوري تاسو ته درکول کېدونکی فورم ډک کړئ او له هغې وروسته خپلې پیسې یاد استازي ته ورکړی.

کله چې دا بهیر بشپړ شو د نمایندګۍ استازی تاسو ته یو اته (۸) رقمي کود درکوي. تاسو کولای شی هغه شخص ته چې غواړئ پیسې ور واستوی یاد کود په واټ کې ورکړئ.

هغه شخص چې تاسو ورته پیسې استوئ کولای شي چې د دې کود په وړاندې کولو سره له اړوندې نمایندګۍ خپلې پیسې تر لاسه کړي.

که تاسو په بانک کې حساب ولرئ، نو اړتیا نشته چې تاسو نغدې پیسې له ځان سره ولرئ، بلکې تاسو په آنلاین ډول کولای شئ له خپل حساب څخه ټاکل شوې کچه پیسې اړوند شخص ته واستوئ او د مانې ګرام سیستم له خدمتونو ګټه پورته کړئ.

که څه هم مانې ګرام د پیسو د لېږد تر ټولو چټک سیستم دی، خو په دې سیستم کې د پیسو د لېږد پر سر د اجورې زیاتوالی، د هېوادونو تر منځ د واټن زیاتوالی هغه عوامل دي چې یاد سیستم څه نا څه له ننګونو سره مخ کوي.

د یادونې وړ ده چې مانې ګرام د نړۍ یوازینی سیستم نه دی چې له پراخ ارزښت برخمن دی، بلکې په نړۍ کې د پیسو د لېږد او رالېږد لپاره یو شمېر نور سیستمونه هم شته او د پېرودونکو لپاره د نړۍ په ډېری هېوادونو کې چوپړونه وړاندې کوي.●

---

سرچینې:

١ - Which is Better: Western Union or MoneyGram? / The Important Bits/ Adrienne Fuller/ Updated Aug 20, 2020 https://www.exiap.com/reviews/western-union-vs-moneygram

٢ – مانی گرام چیست و همه آنچه که باید درباره MoneyGram بدانید/تاریخ انتشار: 1398/07/21 نویسنده : پریسا رضایی
(xc98.cash بدانید | وبلاگ دولوپر 98 ( MoneyGram مانی گرام چیست و همه آنچه که باید درباره



# د افغانستان

## لپاره د هوايي دهلېزونو اهميت او موخې

په تېر کې د ځمکنيو سوداګريزو لارو په وړاندې شته ستونزې د دې لامل شوې وې چې سوداګر مو له ستونزو سره لاس او ګرېوان شي. دا ستونزې په ۲۰۱۷ زېږديز کال کې تر بل هر وخت زياتې شوې او په ياد کال کې د افغان سوداګرو تر ۸۰ ميليونه امريکايي ډالرو زيات مالونه خراب او له منځه لاړل.

هغه مهال چې افغانستان يوازې له ځمکنيو سوداګريزو لارو له ګاونډيو هېوادونو سره نښلېدلی ؤ، د دې هېواد سوداګر به د صادراتو او وارداتو په برخه کې له ترانسپورتي ستونزو سره مخ کېدل، خو کله چې د هوايي دهليزونو د رامنځته کېدو نوښت وشو او دا دهليزونه رامنځته شول، ټولو هغو ستونزو ته د پای ټکی کېښودل شو.

دې چارې جوته کړه چې په هېواد کې د سوداګريزو چارو لپاره د هوايي دهليزونو رامنځته کول يو غوره نوښت دی او دا چاره کولای شي هېواد په سوداګريزه برخه کې د ګاونډيو هېوادونو له احتياجه خلاص کړي.

دې ټکو ته په کتلو سره ويلای شو چې هوايي دهلېزونه د

»

سوداګریزو توکو لېږد رالېږد غوره لارې دي چې سوداګر کولای شي پر وخت خپل سوداګریز توکي تر نړیوالو بازارونو ورسوي.

**د هوايي دهليزونو اهميت او موخې په لاندې ډول بيانوو:**

۱. افغانستان په وچه کې د راګير هېوادونو له ډلې دی. دا هېواد نېغ په نېغه آزادو نړیوالو اوبو ته لار نه لري. له بدمرغه چې یو شمېر ګاونډي هېوادونه مو د افغانستان له دې محدودیت ناوړه ګټه اخلي او تل هڅه کوي چې د افغانستان اقتصاد په خپله ولکه کې ولري. د هوايي دهلېزونو رامنځته کول هېواد د ځمکنيو لارو له ترانسپورتي ستونزو ژغوري او د سوداګرۍ د پراختيا لامل کېږي.

۲. هوايي دهلېزونه هېوادونه سره نښلوي او د نړیوالې سوداګرۍ د پراختيا په برخه کې مهم رول لوبوي. دا دهلېزونه په ځانګړې توګه د هغو هېوادونو لپاره د ډېر ارزښت وړ دي چې په وچه کې راګېر دي او نړیوالو اوبو ته لار نه لري.

۳. د هوايي دهلېزونو له لارې سوداګریز توکي په وخت سره تر نړیوالو بازارونو رسېږي او د سوداګریزو توکو له ضایع کېدو او له منځه تلو څخه مخنیوی کوي.

۴. کله چې ځمکنيو ترانسپورتي لارو کې ستونزې رامنځته کېږي، هوايي دهلېزونه د سوداګریز ترانسپورت غوره بدیل دی او سوداګر مو کولای شي له دې لارې خپل صادرات او واردات ولري.

۵. د هوايي دهلېزونو په رامنځته کېدو سره له نړیوالو بازارونو سره د افغان سوداګريزو توکو نېغ په نېغه اړیکه رامنځته کېږي.

تر دې وړاندې د افغانستان محصولات د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو په نومونو بهرنیو هېوادونو ته استول کېدل، خو د دې دهلېزونو په رامنځته کېدو سره یاده ستونزه حل شوې ده او څوک نه شي کولای د افغانستان محصولات د خپلو هېوادونو په نوم وړاندې کړي.

۶. د هېواد امنيتي وضعيت ته په کتلو سره هوايي دهلېزونه د سوداګرو د مالونو د لېږد را لېږد لپاره تر ټولو ډاډمنه لار ده. د هوايي دهلېزونو له لارې صادرات او واردات د سوداګرو مالونه له احتمالي امنيتي ګواښونو ساتي.

په ټول کې ويلای شو چې هوايي دهلېزونه په افغانستان کې د بزګرانو د محصولاتو د لېږد په برخه کې اغېزناک رول لوبولی دی او په کليوالي سيمو کې يې د بزګرانو پر اقتصادي وضعيت مثبت اغېز کړی دی. تمه ده چې حکومت به په دې برخه کې لا زيات کار وکړي، ترڅو له دې لارې د هېواد په صادراتو کې زياتوالی رامنځته شي.

د معلوماتو پر بنسټ له هغه مهاله چې په هېواد کې هوايي دهليزونه رامنځته شوي دي، له دې لارې ۲۰ زره متريک ټنه سوداګريز توکي په ۱۶۵۰ پروازونو کې بهرنيو هېوادونو ته صادر شوي چې اټکل کېږي د صادراتو دا کچه ۴۳۰ میلیونه ډالرو ته رسېږي. ●

ژباړه او زياتونه

حسيب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفيسر

---

سرچینې:

۱ - درخشش دهلیزهای هوایی؛ گسترش صادرات و دسترسی افغانستان به بازارهای جهانی/ ضیا دانش

۲ - https://ocs.gov.af/dr/article_details/709

Air Corridors and Their Importance in Boosting Trade in Afghanistan/August 27, 2019

۳ - https://www.kakaradvocates.com/air-corridors-and-their-importance-in-boosting-trade-in-afghanistan/

# ویسټرن یونین او د هغې کارونه

ویسټرن یونین د یو شخص څخه بل شخص ته او له یو ځای څخه بل ځای ته د پیسو د لیږد را لیږد لاره ده.

دا لاره د هغو کسانو لپاره غوره ده چې د پیسو د لیږد را لیږد لپاره نورې لارې نه لري. ویسټرن یونین د پیسو د لیږد را لیږد په برخه کې د یو مخکښ شرکت په توګه په بازار کې د پام وړ برخه لري او خلک کولای شي له دې لارې د لګښتونو په پرې کولو سره له دې خدمتونو ګټه پورته کړي.

که څه هم د پیسو د لیږد را لیږد لپاره د ویسټرن یونین تاکنه ګرانه تمامیږي، خو د هغو کسانو لپاره چې په بیړنی توګه د پیسو لیږد را لیږد ته اړتیا لري، یوه غوره لار ده او خلک کولای شي چې له دې لارې بیړنی او خوندي معاملې تر سره کړي.

WESTERN UNION

MONEY TRANSFER

## د ویسټرن یونین له لارې د لیږد را لیږد چارې

**ویسټرن یونین** په کور د ننه د پیسو د لیږد را لیږد تر ټول ډېره پېژندل شوې لاره ده، هغه کسان چې د بېلابېلو لاملونو له کبله نه شي کولای چې د بانکونو له لارې خپلې پیسې ولېږي دوی کولای شي د ویسټرن یونین اړوندو ځانګو ته په ورتګ سره دا چاره په بېړنۍ توګه تر سره کړي.

باید ووېل شي چې له ویسټرن یونین څخه نه یوازې په کور دننه د پیسو د لیږد را لیږد چوپړونه تر سره کېدای شي، بلکې له دې لارې بهرنیو هېوادونو ته هم د پیسود لیږد را لیږد چارې تر سره کېدای شي.

کله چې کوم کس غواړي د ویسټرن یونین له لارې د پیسو د لیږد را لیږد چاره تر سره کړي، د ویسټرن یونین شعبې ته په ورتګ سره د هغه شخص نوم چې غواړي پیسې ور واستوي، د هغې نوم، د اوسېدو ځای او د پیسو د کچې په اړه د یادې ځانګې مسئول ته معلومات ورکوي.

د دې چارو په تر سره کولو سره د اړوندې ځانګې مسئول د پیسو لیږونکي شخص ته د پیسو پر لیږد د لګښت په اړه معلومات ورکوي او د پېرودونکي سره له سلا مشورې وروسته یې د لېږد چارې تر سره کوي.

کله چې پېرودونکی خپلې پیسې او لګښت یې د ویسټرن یونین د مسئول ته ورکړي، مسئول شخص د (MTCN) یوه ځانګړې شمېره پېرودنکي ته ورکوي او پېرودونکی اړ دی چې یاده شمېره له هغه شخص سره شریکه کړي چې پیسې ورته استوي او یاد کس کولای شي د ویسټرن یونین شعبې ته په ورتګ او یادې شمېرې په ښودلو سره خپلې پیسې له نوموړې ځانګې څخه تر لاسه کړي.

د ویسټرن یونین شبکې له لارې د پیسو د لیږد را لیږد په چاره کې له پوره دقت کار اخیستل کېږي او څوک نه شي کولای په دې برخه کې درغلي وکړي او د پیسو وینځلو لپاره لاس په کار شي.

پاتې دې نه وي چې د ویسټرن یونین له لارې د نړۍ هېوادونو ته د پیسو لیږد را لیږد نسبت داخلي لیږد را لیږد په پرتله په کم لګښت تر سره کېږي او د دې چارې بنسټیز لامل هم په کورنیو پیسو د اسعارو بدلون دی. مانا دا چې ویسټرن یونین له دې لارې هم ګټه تر لاسه کوي او دې چارې نورو هېوادونو ته د پیسو د لیږد را لیږد چاره ارزانه کړې ده.

په افغانستان کې هم په تېرو څو کلونو کې د ویسټرن یونین خدمتونه پیل شوي دي او خلك په آسانۍ سره کولای شي چې له دغو خدمتونو ګټه پورته کړي.

تمه ده چې په هېواد کې د دې ډول خدمتونو لا پراختیا به مالي او بانکي چارو ته د هېوادوالو د لاسرسي لامل شي او د دې ډول خدمتونو لړۍ به تر لیرې پرتو سیمو پورې هم وغځول شي.

ژباړه

سرچینې:

۱- How to send and receive money with Western Union/ BY STEFAN ZECHNER JANUARY 15, 2016

۲- https://www.westernunion.com/blog/send-receive-money-western-union-2/

۳- وسترن یونیون چیست و چگونه کار می کند؟ ( daneshpardakht.com)

# اقتصادي خبرونه

**د اسیا پراختیایي بانک: ۲۰۲۱ کال کې د افغانستان اقتصادي وده ښه شوې**

**د اسیا پراختیایي بانک وايي چې په ۲۰۲۱ کال کې د افغانستان اقتصادي وده ښه شوې او وړاندوینه یې کړې چې راتلونکی کال کې به لا ښه شي.**

دغه بانک د یوه نوي راپور په خپرولو سره لیکي، په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان اقتصادي وده د بېلابېلو ستونزو له کبله منفي ۵ وه، خو وړاندوینه کوي چې روان کال به ۳ او په ۲۰۲۲ کال کې به ۴ سلنه ته لوړه شي. دا راپور د "اسیا پراختیایي بانک او په ۲۰۲۱ کال کې د اسیا لیدلوری" تر عنوان لاندې نن خپور شو.

دې راپور کې د ۲۰۲۰ کال پر مهال د افغانستان پر اقتصادي وضعیت د منفي اغېز لاملونه، د کرونا ویروس خپرېدل، سیاسي بې‌ثباتي او د تاوتریخوالي دوام بلل شوي دي.

په افغانستان کې د اسیا پراختیایي بانک رئیس نرېندرا سنګرو که څه هم د افغانستان اقتصادي ودې ته هیله‌مند دی، خو د دې پرمختګ پر وړاندې یو شمېر جدي ننګونې هم په ګوته کوي.

دی زیاتوي: "ننګونې، ګواښونه، په ځینو لیرې پرتو او نا امنو سیمو کې د واکسین نه تطبیق، جګړه، جرمونه، فساد، سیاسي بې‌ثباتي، ټولنیز نا انډولي او د ستونزو نه‌حلول، د افغانستان پر اقتصادي ودې منفي اغېز کولای شي".

د اسیا پراختیایي بانک دغه شان وايي، په دې هېواد کې د بېلابېلو ستونزو له کبله په ۲۰۱۹ کال کې د پیسو پړسوب ۳،۳ سلنه و، خو په ۲۰۲۰ کال کې دا کچه ۵،۶ سلنه ته رسېږي. خو د دې بانک له قوله، په ۲۰۲۰ کال کې په افغانستان کې خوراکي تورم ۱۰ سلنه و، مګر په اپرېل میاشت کې هغه مهال کې چې د کرونا ویروس له کبله پولې وتړل شوې او په کور دننه راکړه ورکړه زیاته شوه، دا حالت ۱۶،۶ سلنې ته ورسېد.

خو د اسیا پراختیایي بانک وړاندوینه کوي چې روان او راتلونکی کال به د خوراکي موادو په واردېدو او تولید سره دا کچه ۵ تر ۴ سلنې ته راټیټه شي.

په همدې حال کې اقتصادي کارپوه عبدالله واحدیار د افغانستان اقتصادي وده د دې هېواد په امنیتي او سیاسي وضعیت پورې تړلې بولي.

ښاغلی واحدیار وايي: "که د بهرنیو عسکرو له وتو وروسته، په دې هېواد کې سوله راشي، په ډاډ سره وایم چې ډېره اقتصادي وده به وکړي، خو که چېرې سوله ونه‌شي او جګړه زیاته شي، اقتصادي وضعیت او بې‌کاري به له اوسني حالت هم خراب شي".

خو له دې ټولو سره سره، اسیا پراختیایي بانک ډاډ ورکوي چې د نورو نړیوالو ادارو سربېره به له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د اسیا پراختیایي بانک د مسؤلانو په خبره، د 'کووېډ-۱۹' پر ضد د واکسین د پېچکاري کېدو بریالی بهیر او په افغانستان کې د اقتصادي ودې په موخه د پانګونې له لارې کېدای شي چې دا هېواد سبا او راتلونکی کال په یوه ښه وضعیت کې وي.



**اقتصاد چین رشد سریع خود را از سر گرفت**

رشد اقتصاد چین در سه ماهه اول سال ۲۰۲۱ نسبت به سه ماهه مشابه سال گذشته به رکورد ۱۸.۳ درصد رسیده است که بیشترین جهش در تولید ناخالص داخلی این کشور از زمان آغاز انتشار آمار سه ماهه در سال ۱۹۹۲ است. با این حال، این رقم که امروز اعلام شد کمتر از پیش‌بینی قبلی رشد ۱۹ درصدی است و در مورد تداوم رشد سریع اقتصادی این کشور تردیدهایی وجود دارد.

در واقع، این میزان رشد چندان قابل توجه نیست، زیرا با شرایط سه ماهه اول سال گذشته مقایسه شده که اقتصاد چین رشد منفی داشت و نسبت به قبل کوچکتر شده بود. به عبارت دیگر بخشی از رقم اعلام شده برای سال جاری عملاً به معنی جبران رشد منفی سال گذشته است. در سه ماهه اول سال ۲۰۲۰، دولت چین برای مقابله با شیوع ویروس کرونا اعلام قرنطینه کرد و بسیاری از فعالیت‌های اقتصادی متوقف شدند. در نتیجه، اقتصاد دچار رشد منفی ۶.۸٪ درصد شد.

»



اداره آمار ملی چین در گزارشی که همراه با ارقام سه ماهه اول منتشر کرده گفته است که پس از کاهش رشد در سال گذشته، "اقتصاد ملی آغاز خوبی داشته است."

این گزارش در عین حال می‌افزاید که "باید توجه شود که اپیدمی کووید -۱۹ هنوز در سطح جهانی در حال گسترش بوده و فضای اقتصاد جهانی گرفتار عدم اطمینان و بی‌ثباتی شدید است." رشد اقتصادی چین به شدت به صادرات خارجی وابسته است. سایر ارقام کلیدی در گزارش اداره آمار ملی چین هم حاکی از ادامه روند جهشی و به گفته این اداره، "قوی" است، اما در مقایسه با ارقام رشد سال‌های گذشته، هنوز هم ضعیف به نظر می‌رسد.

تولید صنعتی در ماه مارچ سال جاری نسبت به مارچ سال گذشته ۱۴.۱ درصد و ارقام فروش خُرده فروشی ۳۴.۲ درصد رشد کرد.

لوئیس کوئیجس، رئیس بخش اقتصاد آسیا در مؤسسه تحقیقات و مشاوره آکسفورد اکونومیکس، معتقد است: "در پی رشد ضعیف دو ماهه اول سال جاری، در ماه مارچ شاخص‌های ماهانه حاکی از بهبود رشد تولید صنعتی، مصرف و سرمایه‌گذاری است که این امیدواری را تقویت می کند. اقتصاد چین ممکن است در راه بازگشت به شرایط رشد معمول خود باشد."

با شیوع ویروس کرونا و تعطیلی واحدهای اقتصادی، دولت چین مانند بسیاری از دولت‌های دیگر جهان یک رشته اقداماتی را برای جبران خسارت ناشی از این وضعیت به خصوص در زمینه کمک معاش به کارگران و کارمندان، حفظ مشاغل و کمک مالی به واحدهای اقتصادی به اجرا گذاشت. نتیجه این اقدامات "انبساطی" طبیعتاً در آمار رشد ملی منعکس شد.

به همین دلیل، برخی تحلیلگران پیش‌بینی می کنند که با کاهش حمایت مالی و پولی دولت، بعضی از بخش‌های اقتصادی با کاهش رشد مواجه شوند.

یو سو، مدیر بخش تحقیقات چین در واحد اطلاعات نشریه اکونومیست، معتقد است که اگرچه جدیدترین آمار حاکی از روند بهبود اقتصادی است، اما در مورد بعضی فعالیت های تولیدی و صادراتی این احتمال وجود دارد که افزایش تولید در مقایسه با سال گذشته در ابتدای سال "انباشته" شده باشد و رشد اقتصادی در ماه های بعد به مراتب کمتر باشد. وی گفته است که "ممکن عملکرد در زمینه تجارت در خارج و فعالیت‌های صنعتی در داخل نتواند شتاب سه ماهه اول را ادامه دهد، زیرا اقدامات حمایتی دولت متوقف شده است." با اینهمه، ارقام منتشر شده نشان می‌دهد که حرکت اقتصادی چین همچنان ادامه دارد و رو به رشد است.

در سه ماهه آخر سال گذشته میلادی، رشد اقتصادی چین نسبت به سه ماهه سال قبل ۰.۶ (شش دهم) درصد بود، اما به خاطر اقدامات سختگیرانه جهت مهار شیوع ویروس و کمک‌های گسترده دولت برای حفظ مشاغل، وضعیت اقتصادی چین به طور مرتب رو به بهبود بوده است. در واقع با وجود شرایط دشوار سال گذشته، اقتصاد چین تنها اقتصاد در جهان بود که در سال ۲۰۲۰ رشد اقتصادی مثبت داشت ولو اینکه نرخ رشد ۲.۳ درصد بسیار کمتر از نرخ رشد اقتصادی چین در سال‌های قبل بود.

با شیوع کرونا، دولت چین پیش‌بینی قبلی برای رشد اقتصادی را کنار گذاشت و اعلام کرد که هدف دولت دستیابی به رشد اقتصادی ۰.۶ درصد در سال ۲۰۲۰ میلادی است.

سرچینې:

1-سرچینه: https://pa.azadiradio.com/a/31228360.html نیټه: غویی ۰۸، ۱۴۰۰

2- منبع: https://www.bbc.com/persian/business-56771426 تاریخ 27 حمل 1400

# پیامد صلح؛ پیشرفت، ترقی و توسعهٔ اقتصادی

چندین دهه جنگ در افغانستان زندگی مردم و سایر زیربنا های کشور را متأثر ساخت، اما خوشبختانه که در این اواخر امید جمعی برای صلح و انتقال اقتصاد از حالت جنگی به اقتصاد صلح محور شکل گرفته و فُرصت خوبی به شرکاء و دوستان افغانستان و همسایه های افغانستان بمیان آمده است.

دولت افغانستان مصمم است تا اهداف توسعوی پایدار خویش را در پرتو صلح تدوین و رهنمایی های لازم را در این عرصه فراهم نماید. بعد از تحکیم صلح در افغانستان، برنامه های توسعوی ملل متحد و سایر کشور های دوست، جامهٔ عمل خواهد پوشید. صلح سبب کاهش فساد، شفافیت و مسئولیت پذیری در جامعه شده، در ضمن سبب بهبود حکومت داری خوب و بهبود شرایط کسب و کار می گردد.

پایان جنگ و نا امنی می تواند زمینهٔ استفادهٔ پایدارتر از منابع طبیعی را مهیا ساخته و عواید از منابع مختلف تحت کنترول دولت قرار گیرد تا درآمد دولت افزایش یابد.

»



در صورت تحقق صلح، نیازمندی های افغانستان از طریق همکاری ها میان افغانستان و شرکای بین المللی آن بشمول سازمان ملل متحد بدست خواهد آمد. در چنین وضعیتی، ملل متحد و سایر تمویل کنندگان می تواند به جای طرح و تطبیق پروژه های سنتی، افغانستان را در جهت رونق فعالیت های توسعوی یاری رسانند. در شرایط کنونی افغانستان در یک مقطع حساس تاریخی قرار دارد که با ادامۀ کمک های فنی و حمایت مالی تمویل کنندگان و همکاری ملل متحد می تواند، مالک رشد اقتصادی خوبی شود.


از سال گذشته به این طرف، پروسه صلح در افغانستان روز بروز جدی تر شده و مردم هم این پروسه را همراه با بیم و امید تعقیب می نمایند، زیرا افزایش دوامدار جنگ اقتصاد کشور را بیشتر از پیش به چالش می کشاند و عواقب خطر ناکی در پی خواهد داشت.

در صورت پیشرفت در این عرصه، چرخه های اقتصاد کشور به حرکت خواهد آمد و شاهد موارد ذیل خواهیم بود.

- افزایش سرمایه گذاری خارجی: سرمایه گذاران خارجی؛ زمانی تمایل به سرمایه گذاری در یک کشور پیدا می کنند که در آنجا امنیت و مصونیت جانی و مالی باشد.
- رونق صنعت توریزم: افغانستان دارای تمدن های مختلف بوده، هر منطقۀ آن بخاطر داشتن آب و هوای خوب برای سیاحان جذابیت خاص دارد. روی همین علت بود که در دهه های پنجاه و شصت سالانه تعداد کثیری از سیاحان از ولایت های نظیر کابل، هرات، بامیان، غزنی، بلخ، قندهار، غور، جلال آباد، سمنگان و غیره ولایات دیدن می کردند. در صورت دید و بازدید سیاحان به افغانستان ساحۀ اشتغال و رشد این صنعت بیشتر شده و در بهبود اقتصاد مؤثر واقع خواهد شد.
- رشد عواید داخلی: در موجودیت امنیت و مصونیت سکتورهای خصوصی رشد نموده که در پی آن، فعالیت های تجاری بیشتر میشود و تعداد مالیه دهندگان افزایش میابد و به تبع آن در عاید ملی نیز افزایش بعمل می آید.
- افزایش سرمایه گذاری در منابع زیر زمینی: افغانستان سرشار از منابع زیر زمینی بوده و در کنار آن نیروی جوان کاری نیز دارد که در صورت تأمین امنیت و صلح پایدار، شکوفایی اقتصادی را تجربه خواهیم کرد.
- جلو گیری از فرار مغز ها: تا حال نظر سنجی ها نشان می دهد که عمده ترین عوامل فرار مغز ها از کشور نبود صلح، امنیت و بیکاری است. در نهایت پیشرفت اقتصادی بعد از سرمایه گذاری های اقتصادی و اجتماعی، بر زندگی مردم تأثیر بسزایی داشته و سرمایۀ اقتصادی ریشۀ انواع خوشی ها را به همراه دارد و برای زندگی آینده مردم امید می بخشد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:
۱-ana.press/ news / عنوان: علم در خدمت صلح و توسعه /ارتقای آگاهی عمومی زمینه ساز صلح پایدار در جهان / تاریخ نشر / ۲۰ /عقرب / ۱۳۹۹
۲-8am.af / عنوان / چالش ها و آرزو ها، فُرصت های جدید برای یک افغانستان آرام و مرفه / نویسنده: عبدالله الدر دری نماینده ی مقیم برنامه ی توسعه ی ملل متحد در افغانستان / تاریخ نشر ۴ / قوس / ۱۳۹۹
۳-https://otaghiranonlin.ir / عنوان : اقتصاد صلح ضرورت خروج پارادایم فکری اقتصاد جنگ/ بولتن اقتصادی مهر ۱۳۹۸ / تاریخ نشر ۴ / عقرب ۱۳۹۸



# تعلیم و تحصیل؛ محرک رشد و توسعه اقتصادی

تعلیم و تحصیل از عوامل اساسی رشد و توسعه اقتصادی کشورها بشمار میروند. اگر به دنیای امروزی عمیق تر بنگریم به وضوح مشاهده میگردد که رشد و توسعه اقتصادی و اجرای برنامه ها و پلانهای اقتصادی بزرگ و کارا علاوه بر عوامل تولید، نیروی کار و تکنالوژی عصر، بر تعلیم و آموزش نیز ارتباط می گیرد.

اجرای برنامه های توسعوی نیاز به نیروی تحصیل یافته، متخصص و توانا دارد. این نیرو را میتوان در وجود جوانان وطندوست، تحصیل یافته و مجرب دریافت و از استعدادهای که در وجود آنها نهفته است، استفاده مؤثر و مفید بعمل آورد.

کسب تعلیم و تحصیل زمینه را برای رشد و توسعه اقتصاد کشور فراهم می سازد و افزایش کیفیت نیروی انسانی موجب

»

افزایش منفعت و تسریع رشد اقتصادی می شود. ترویج و گسترش پیشبرد علم و تحصیل، انسان را از یک زندگی سخت و دشوار، در تلاش وسعت یک زندگی خوب و بزرگ قرار میدهد.

افغانستان که یکی از کشورهای نسبتاً فقیر در جهان بشمار میرود، حدود چهار دهۀ است که در جنگ بسر میبرد. متاسفانه که در این مدت زمان، این کشور کمتر مجال رشد اقتصاد را یافته است. بعد از این، افغانستان نباید از رشد، توسعه اقتصادی و پیشرفت جهان امروزی از قافله عقب بماند. اکنون زمان فراگیری علم، تحصیل و بالندگی است که اغلب این حرکت ها باعث رشد و توسعه اقتصادی گردیده و امید زندگی را دوباره در وجود هر انسان آگاه زنده می سازد.

در حال حاضر جوانان، نوجوانان و حتی تعدادی از بزرگ سالان اعم از زن و مرد مصروف ارتقای سطح تحصیلی خود هستند تا کاروان ساخت و ساز را تقویت بخشند و چرخه های زندگی خود و اقتصاد کشور خود را بی درنگ در گردش درآورند.

انسان ها از بدو پیدایش بگونه غریزه ای در تلاش بهبود و صیقل زندگی پرفراز و نشیب خود بوده اند. این تلاشها معمولاً با موانع ناخواسته مواجه گردیده، و انسان برای رسیدن به هدف مطلوب خود در کوتاه مدت قادر نگردیده است که به تبع آن این موانع در رشد عرصه اقتصاد نیز تأثیر گذار بوده است.

زمینه و جایگاه تحصیل، تحول بزرگی را در همه ابعاد زندگی بشر بوجود آورده که میتوان از رشد بازارهای بدوی به مغازه های مجهز که قناعت مشتری را فراهم میکند و صادرات اموال تجارتی از شکل غیر معیاری به شکل ساده، سهل و سریع یاد هانی کرد. بطور مثال در گذشته یک دهقان بخاطر فروش محصولات خویش تا محل فروش امتعه ( بازار) نیاز به گذراندن روزها داشت و یا بنابر دلایل دیگر چون خطر گم شدن و نامساعد بودن مکان و ... عوامل بگونه درست و قابل استفاده به هدف مورد نظر نمی رسید.

تعلیم و تحصیل، به انسان ها این فرصت را فراهم ساخت تا در ایجاد تحول از هیچ آزمونی و تلاشی باز نه ایستد و هرگز خستگی را نپذیرد تا جاییکه اکنون اقتصاد دایره وسیع را شکل داده و با پیشرفت های زمان به پیش میرود. از برکت تعلیم و تحصیل، امروز اقتصاد در نزدیک ساختن ملت ها نقش اساسی را ایفاء میکند و همه تلاش ها در جهت رشد، تعادل و توسعه اقتصاد کشور هاست.

افغانستان که بیشتر از چهل سال جنگ و نابسامانی را تجربه می نماید، نتوانسته است تا به هدف اصلی اش که همانا رشد پایه دار است، برسد. دلیل عمده نرسیدن به این هدف را میتوان جنگ های طولانی در کشور عنوان کرد که فرصت آموزش و تحصیل را از مردم بخصوص نسل جوان گرفته و کشور را در جمع کشور های مصرفی قرار داده است.

خوشبختانه که در حال حاضر تلاش های خستگی ناپذیر نسل جوان و پویای کشور در ساخت و ساز پایه های اقتصاد آغاز گردید است. در حال حاضر بیشتر خانوادها به جایگاه بلند و مؤثر دانش پی برده اند و اعتماد به نسل جوان بیشتر از پیش تقویت شده است.

مردم با درک مسئولیت در این راستا تلاش های مثمر و ممد را انجام داده اند، تا جائیکه در حال حاضر از آدرس افغانستان تولیدات داخلی داریم و اقتصاد نو پای کشور اندکی توان ایستادن را یافته است. همچنان اشتراک افغانستان در سازمانهای بین المللی چون ایکو، شانگهای، ریکا و سایر سازمان ها دستاورد بزرگی در مدت کوتاه زمانی است که این همه محصول کارکردهای افراد تحصیل یافته کشور است.

در اخیر میتوان گفت که کشور های که دارای ثروت انسانی بالنده، ماهر و متخصص اند به توسعه اقتصادی دست یافته اند و در رشد ستون های اقتصادی و سایر بخش ها نقش اساسی را بازی نموده اند.



# څنګه باید شتمن او له اقتصادي بسیاینې برخمن شو؟

په ژوند کې شتمن کیدل یو شمېر وضع شویو اقتصادي اصولو او قواعدو ته اړتیا لري چې پر ځان د دې اصولو او قواعدو عملي کول مو نېغ په نېغه د شتمنیدو لارې ته برابروي او له اقتصادي بسیاینې او هوساینې څخه مو برخمن کوي.

تاسو به لیدلي وي چې ډېر خلک شتمن وي؛ ښې پیسې لري، خو په ډېر کم وخت کې یې شته پیسې له لاسه ځي او بیا د یوې روپۍ پیدا کولو ته هم حیران پاتې وي.

د دې لپاره چې ځان له یو داسې ناوړه اقتصادي حالت څخه وژغورو او شتمن پاتې شو باید ځینې مالي عادتونه زده کړو.

په دې مقاله کې د همدغو عادتونو په اړه لاندې معلومات درسره شریکوو:

د نړۍ هر وګړی دا هیله لري چې ښه ژوند ولري، ښه خواړه وخوري، بهرنیو هېوادونو ته سفرونه وکړي او له دې لارې ژوند څخه خوند واخلي. خو که پیسې مو په احتیاط سره و نه لګولې، ډېر ژر به داسې یوه ورځ راشي چې نورو ته مو تل لاس اوږد وي. د دې لپاره چې بل ته اړ نه شئ، خپل ورځني لګښتونه مو په پوره پام سره وکړی او له بېځایه پېرودنو څخه لاس واخلئ.

په نړۍ کې ټول هغه کسان چې دا مهال بل ته اړ نه دي او خپلې شتمنۍ یې خوندي ساتلې دي، دوی په خپل ژوند

«

کې یو ښه عادت چې هغه سپما ده لري.

دا ډله خلك تل په خپلو لګښتونو کې تناسب په پام کې لري او د خپلو لګښتونو یوه برخه سپما کوي.

که تاسو هم دا عادت خپل کړئ او له بې ځایه لګښتونو ډډه وکړئ، لېرې نه ده چې شتمن به شئ او د تل لپاره به د نورو له احتیاجه خوندي و اوسئ.

تاسو همدا نن کولای شئ چې د خپل موبایل د کریډټ، د برېښنا د بل، تلویزیون د کیبل او داسې نورو غیر ضروري څیزونو د بې ځایه لګښتونو په کموالي فکر وکړئ او تر ډېره حده یې را ټیټ کړئ.

که غواړئ چې شتمن شئ، نو په یاد ولرئ چې دې هیلې ته د رسېدو لپاره د پیسو مدیریت ډېر اړین دی. شتمن خلك خپلې پیسې په ډېر دقت سره لګوي، دوی خپل ټول لګښتونه له ځان سره لیکي او د هرې میاشتې په پای کې یې ارزونه کوي.

که تاسو هم دا کار وکړئ، نه یوازې دا چې پیسې به مو په غوره توګه مدیریت کړئ، بلکې پر دې سره به د خپلو لګول شویو پیسو په اړه دا معلومات هم تر لاسه کړئ چې یادو لګښتونو ستاسو لپاره څومره مثبته اغیزه درلودلې ده.

شتمن کسان تل د خپلې راتلونکې په فکر کې وي او په پانګه اچونه فکر کوي، که تاسو هم په دې اړه، سر له همدې نن ورځې فکر وکړئ، لېرې نه ده چې دې هدف ته رسېدل به مو شتمن کړي.

پور اخیستل پوروړي ته یو ډول روحي ځورونه ده. شتمن خلك نه په سود پور اخلي او نه هم کوم بل ډول پور ته مخه کوي. دوی هڅه کوي چې د چا پوروړي و نه اوسي او خپل پور پر ټاکلي وخت پور ورکوونکي ته ور ورسوي.

شتمن خلك له خپل عاید بودیجه جوړوي. د هرې میاشتې د لګښتونو لپاره پیسې بېلوي او د همغه بودیجه بندۍ سره سم مخته ځي. دا چاره ډېره آسانه ده که غواړئ چې تاسو هم بودیجه بندي وکړئ، همدا نن مو په خپل موبایل یا کمپیوټر کې د بودیجې جوړونې اپلیکشن ښکته کړئ او د هغې په مرسته مو خپل مالي چارې مخته یوسئ.

شتمن خلك خپل ټول لګښتونه پر خپل ټاکلي وخت سره ورکوي، د بیلګې په توګه د برېښنا بل له یوې میاشتې تر بلې نه پرېږدي او د بل له راتګ سره یې په لومړیو ورځو کې پرې کوي. د دې چارې ګټه دا ده چې لګښتونه مو له بودیجه بندۍ سره سم مخته ځي او نه پرېږدي چې په لګښتونو کې مو زیاتوالی راشي.

شتمن خلك زیات لګښت نه کوي او که کوي یې هم دا عادتونه هېروي او نه پرېږدي چې د زیات لګښت کولو عادتونه یې دوی په راتلونکې کې له ستونزو سره مخ کړي. دوی په دې پوهیږي چې که د خپلو پیسو سم مدیریت ونه کړي، ډېر ژر به نورو ته اړ شي. نو که تاسو هم غواړئ چې شتمن شئ د زیات لګښت کولو عادتونه مو هېر کړئ.

شتمن خلك معلومې موخې لري. له جوړ شوي پلان سره سم د پلان مطابق مخته ځي. دوی په دې فکر کوي چې څه وخت موټر را ونیسي؟ څنګه کور وپیري او کله په رخصتۍ لاړ شي؟

سرچینې:

1 - Turbo/ REAL MONEY TALK/ How to Become Rich in 10 Easy Ways - https://turbo.intuit.com/blog/real-money-talk/how-to-become-rich-622/

2 - لومړیتوب ویب پاڼه/ څنګه شتمن شو؟ - https://lomritob.tumblr.com/post/





# ټاپي د سیمې هېوادونه له تقابل تر تحمل رسوي

د ټاپي نل لیکه له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او له هغې لارې بیا هندوستان هېواد ته غځېدلې نل لیکه ده چې له یادې لارې د ترکمنستان ګاز پاکستان او هند ته لېږدوي.

د ۱۳۹۷ کال په وروستیو کې د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني، د ترکمنستان ولسمشر قربان قلي بیردي محمدوف، د پاکستان صدراعظم شاهد خاقان عباسي ( نومونړی په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې د پاکستان د صدراعظم پرویز مشرف تر سلب صلاحیت وروسته د پاکستان هېواد د لنډ مهالي صدراعظم په توګه په دنده وګمارل شو) او د هند د بهرنیو چارو وزیر هرات کې د دې پروژې پرانیسته وکړه.

د ګازو دا نل لیکه چې ټول اوږدوالی یې ۱۸۱۴ کیلومتره ده، ۸۱۶ کیلو متره یې له هرات، فراه، نیمروز، هلمند او کندهار ولایتونو څخه تېریږي او بیا د پاکستان د کویټې او ملتان له لارې د هند هېواد فزیلکا ښار ته رسیږي.

تاکل شوی ده چې په دې پروژه به ټول دوه ویشت میلیارده او پنځه سوه میلیون ډالر لګښت راشي. دا نل لیکه چې له کلونو راهیسې یوه ناندریزه مسئله او کار یې ځنډېدلی و، د افغانستان او سیمې لپاره پراخې ګټې لري چې یو شمېر یې په لاندې ډول ذکر کیږي:

- ټاپي به د سیمې هېوادونه داسې سره وتړي او ګټې به یې دومره سره نږدې شي چې له اوسني تقابل څخه به

»

د یو بل تحمل ته مخه کړي.

- د سیمه‌ایزې همپالنې او سیمه‌ایز اتصال لپاره یوپیاوړی ګام دی
- په زرګونو کسانو ته به د تاپي په پروژه کې نېغ په نېغه کاري فرصتونه برابري شي چې د بې وزلۍ او بیکارۍ په راکمولو کې به مهم رول ولوبوي
- افغانستان به له دې نل لیکې په کلنۍ توګه د ټرانزیټ او حق العبور له درکه شاوخوا ۴۰۰ میلیونه ډالر امریکایی عواید تر لاسه کړي چې له دې سره به د دولت ملي عواید لوړ شي
- د معلوماتو پر بنسټ افغانستان به په لومړیو لسو کلونو کې ۵۰۰ میلیون متر مکعب ګاز او په دویمه لسیزه کې به یو میلیارد متر مکعب ګاز او دریمه لسیزه کې به ۱.۵ میلیارد متر مکعب ګاز تر لاسه کړي. تمه ده چې له دې سره به په هېواد کې د ګازو د کمښت ستونزه تر ډېره حل شي.

شمال ختيځ سوېل ته د ګازو د نل لیکې پروژې ترڅنګ به د برېښنا، ریل پټلۍ او نوري فایبر د غزولو په شمول ګڼې نورې غټې او وړې پروژې هم عملي شي.

- د رېل کرښې د ملي شبکې په واسطه به؛ منځنۍ، سویلي آسیا او له اروپا سره د هرات، نیمروز، فراه، هلمند، کندهار او نور ولایتونه ونښلول شي.
- د سیمې هېوادونو سره به د ټرانزیټ او سوداګرۍ په برخه کې آسانتیاوو ډېرې شي، صادرات به آسانه او د وارديدونکو توکو بیې په راټیټې شي.
- د کورنیو او بهرنیو پانګوالو لپاره به په افغانستان او سیمه کې د پانګې اچونې نوې او بېلابېلې زمینې برابري شي.
- افغانستان به سیمې هېوادونو په څلور لارې بدل شي.
- افغان کارګرو ته به د عصري او مسلکي زده کړو آسانتیاوې برابرې شي.
- د سیمه ایزې همکارۍ لپاره به د سیمې د هېوادونو ترمنځ یو ګډ لیدلوری رامنځته شي.
- د دې پروژې له پلي کېدو سره به سیمې او نړۍ ته د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ثابت او ښکاره شي.
- د سیمې هېوادونو او ملتونو سره به اړیکې نږدې او پیاوړې شي او د ګډو اقتصادي اړیکو هڅې به وده وکړي.
- د ګران هېواد او سیمې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ، سولې او ټیکاو سره به مرسته وکړي.

د یادونې وړ ده چې ټاکل شوې ده چې د تاپي پروژه چې دا مهال یې کارونه د بشپړېدو په حال کې دی، د روان زیږدیز کال د آګست په میاشت کې ګټې اخیستې نه و سپارل شي.

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

---

سرچینې:

۱ – معلومات عمومی در باره پروژه تاپی/ طلوع نیوز/ نویسنده: سیر سیرت،ویرایش شده در تاریخ: ۵ حوت ۱۳۹۶ https://tolonews.com/fa/afghanistan

۲ – ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ګازو د نللیکېڅو مهمېګټې/ د اظهار الحق فضلي لیکنه/ د خپریدو وخت: فبروري ۲۲، ۲۰۱۸ https://yaraan.com



تاج محمد تمکین
د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصاد پوه

# په ننګرهار

## کې د پانګې اچونې لپاره شته فرصتونه



ننګرهار ولایت د افغانستان د مهمو ولایتونو له ډلې دی چې د هېواد په اقتصاد کې غوره رول لوبوي. ننګرهار د تاریخي ځانګړنو، اوبو او هوا، تازه مېوو، سبو او نورو حاصلاتو او طبیعي منظرود لرلو له امله یې د هېوادوالو پاملرنه ځان ته را اړولې ده او آن هغه یې د همیشه بهار په نوم یاد کړی دی.

ننګرهار د غوره او مناسب اقلیم په لرلو سره د ژوند تېرولو او کارکولو لپاره دګاونډیو ولایتونو څخه خلک یاد ولایت ته را کډه شوي او دا مهال د ګڼ نفوسه ولایتونو له ډلې شمېرل کېږي.

ننګرهار ته د افغانستان د ختیځ دروازه هم ورته وایي. د ننګرهار مرکز جلال آباد نه یوازې دا چې په جغرافیایي لحاظ اهمیت لري، بلکې په اقتصادي لحاظ هم د سوداګرۍ لپاره غوره سیمه ده.

دا ولایت چې یو کرنیز ولایت هم دی د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره پرېمانه اوبه لري او د اوبو لګولو سترې اقتصادي پروژې او کانال یې په دې برخه کې ډېر رغنده او ټاکونکی

»



رول لوبولی دی.


د دې ولایت د احصائیې او معلوماتو ریاست یوه سروې ښکاروي هغه کسان چې په یاد ولایت کې پر دندو بوخت دي ۴۴٪ پرکرنې ۱۸٪ یې پر صنعت او نور ۳۸٪ وګړي یې پر خدماتي سکتور او یا پر نورو دندو بوخت دي.

په یاد ولایت کې د پانګې اچونې لپاره ورړ او مناسبه زمینه برابره ده چې د پانګې اچونې لپاره یې اهمیت په لاندې ټکو سره روښانه کیږي.

- د کاري ځواک شتون: په ننګرهار ولایت کې د کاري ځواک شتون د دې لامل کېدای شي چې پانګه اچوونکي په دې ولایت کې پانګې اچونې ته زړه ښه کړي.
- صنعت پیاوړتیا: د صنعت او سوداګرۍ له پلوه هم د ننګرهار ولایت د ځانګړي ارزښت لرونکی دی. دا ولایت د ختیځ زون د سوداګرۍ د مرکز په نوم هم یادیږي. د تورخم د بندر له لارې هم له ګاونډي هېواد پاکستان سره ډېره آسانه سوداګریزه راکړه ورکړه لري چې د سوداګرو او کاروباریانو لپاره د ډېر ارزښت لرونکي دي.
- په ننګرهار ولایت کې د صنعت د پرمختګ لپاره درې صنعتي پارکونه هم شتون لري چې د صنعت په برخه کې د پانګې اچونې لپاره خورا مهم ګڼل کیږي.
- د شیخ مصري صنعتي پارک د ۶۳۵ فابریکو د ځای کولو ظرفیت لري، د حِصار شاهي صنعتي پارک د ۳۰۰ فابریکو ظرفیت لري او همدا شان د غالیو اوبدلو پارک چې له امله یې د صنعتي پرمختګ لپاره ښه زمینه برابره شوې ده.
- د کانونو را سپړل خلکو ته د کار د زمینې برابرولو او د هغوی د عوایدو د کچې د لوړولو په معنی ده. په هېواد کې نږدې ټول ولایتونه غرنیزې او ځنګلي سیمې لري چې ننګرهار ولایت هم له دې ډلې دی که ورته پاملرنه وشي، نو بې له شکه د خلکو لپاره د کار او روزګار موندنې، د پانګه اچونکو لپاره د ګټې او همدا شان هېواد د ملي اقتصاد د پرمختګ لپاره زمینه برابریږي.
- ننګرهار پراخه دښتې او تر څنګ یې د اوبو بډایه زېرمې لري چې لا تراوسه ورته اړینه پاملرنه نه ده شوې. که دې دښتو او اوبو ته پاملرنه وشي د موجوده اوبو د مهارولو او د نوې او اغېزناکې تکنالوژۍ د کارولو او دغه راز د کانالونو او د اوبو د بندونو په جوړولو سره د دښتو خړبولو ته لاره هواره شي.
- دا ولایت د ځینې ولایتونو په شان کافي اوبه لري، لکه د کونړ سیند، د کابل سیند، د سپین غر رودونه، چینې او کاریزونه چې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره له ځانګړي اهمیت څخه برخمن دي.
- که په یادو برخو کې پانګه اچونه وشي، نو نه یوازې دا چې پانګوال به ګټه ترلاسه کړي، بلکې په زرګونو کسانو ته به هم د کار زمینه برابره شي. دا په دې معنی چې زرګونه کورنۍ به عواید تر لاسه کړي او حکومت به هم له دې لارې له زیاتو عوایدو برخمن شي.
- پاتې د نه وي چې په دې ولایت کې په ډېرو نورو برخو کې هم د پانګو اچونو لپاره په ډېرو نورو برخو کې هم د پانګې اچونې لپاره فرصتونه شته چې په هېواد کې امنیتي وضعیت په ښه کېدو سره به دا فرصتونه زیات شمېر هېوادوالو ته د دندو زمینې برابرې کړي او بېکاري به را کمه کړي.

سرچینې:


1. Nangarhar directorate of economy economic potential report 1398 SY
2. https://brokerchooser.com/how-to-invest/investing-your-money
3. Nangarhar central statistics office







**مساوات و عدالت:** د افغانستان بانک به رعایت اصل برخورد منصفانه، عاری از هر گونه تبعیض، تعصب و بدور از هر گونه ملاحظات غیر مسلکی با تمام کارکنان، مشتریان و سایر مراجع ذیربط التزام دارد. این امر شامل ایجاد فضای مناسب کاری و رعایت تساوی جنسیتی (جندر) نیز می گردد.

**مساوات او عدالت:** د افغانستان بانک له خپلو مشتریانو، کارکوونکو او نورو شریکانو سره د منصفانه چلند د رعایتولو اصل ته چې له هر ډول تبعیض، تعصب او غیر مسلکي ملاحظاتو خالي وي، ژمن دی. دا چلند د مناسب کاري چاپیریال رامنځته کول او د جنسیت (جندر) رعایتول هم رانغاړي.

**حفظ محرمیت:** حفظ سطح محرمیت در تمام سطوح (روابط و معاملات) د افغانستان بانک با تمام کارکنان، مشتریان و سایر مراجع ذیربط به عنوان اصل خدشه ناپذیر و غیر قابل اغماض محسوب می شود.

**محرمیت:** د افغانستان بانک د خپلو ټولو مشتریانو، کارکوونکو او له نورو شریکانو سره په ټولو چارو (اړیکو او معاملو) کې د محرمیت ساتلو ته ژمن دی.




# حفاظت درست از بانکنوت ها وظیفه همه ماست

د افغانستان بانک طبق یکی از وظایف اش پول افغانی را به شکل سکه و بانکنوت ضرب و چاپ می نماید. این سکه ها و بانکنوت ها در معاملات روزمره اقتصادی و در داد و ستد پولی ما مورد استفاده قرار می گیرد که مشکلات ما از رهگذر خرید و فروش تا حد زیاد مرفوع گردیده است.
در این میان، د افغانستان بانک جهت سهولت در داد و ستد پولی مردم، همواره بانکنوتهای مندرس ( کهنه و فرسوده) را از بازار جمعاوری و به عوض بانکنوت های جدید را طبق تقاضای بازار عرضه می نماید.
متاسفانه دیده میشود که در حفاظت درست از بانکنوت ها سهل انگاری صورت گرفته که این روند نا مطلوب سبب مندرس شدن قبل از وقت بانکنوتها میگردد. بانکنوتهای در دوران، بعضاً بنابر بی توجهی و غفلت تعدادی از مردم به شکل نامناسب و فرسوده در بازار ها قرار داشته که مشکلاتی را حین خرید و فروش به بار میاورد. علت فرسوده شدن آنها را میتوان بی توجهی تعدادی از مردم در حفظ و نگهداشت آن عنوان کرد. همچنان تعدادی از مردم اهمیت چندانی به نحوه حفاظت و نگهداری درست از بانکنوتها نمیدهند، در حالیکه با شیوه های درست می توان از آنها حفاظت و نگهداری و به عمر آن افزود.
استفاده از بکس جیبی، بهترین شیوه جهت نگهداری بانکنوتها است. مردم باید در جهت حفظ و نگهداشت صحیح این سرمایه ملی بی اندازه کوشش نمایند و همچنان از آن منحیث کتابچه یادداشت، دفترچه نمرات تیلفون و غیره استفاده ننمایند.
در صورتیکه اتباع کشور در حفظ و نگهداشت پول افغانی بیشتر تلاش نمایند، می توان از مبلغ زیادی که بالای چاپ مجدد آن هزینه میگردد، جلوگیری و پول آنرا در راه های دیگری جهت رشد و توسعه زیربناهای اقتصادی و سایر پروژه های اقتصادی کشور هزینه کرد.
با توجه به موضوعات فوق هموطنان عزیز وظیفه دارند تا در حفظ و نگهداشت درست پول افغانی کوشا باشند و از عواملی که سبب فرسوده شدن زودهنگام بانکنوتها می شوند، جلوگیری نموده و مسئولیت خود را در این مورد انجام دهند.
پول ما، سرمایه ملی ما است. بیایید حین داد و ستد پولی در حفاظت آن تلاش نماییم.





## قرضۀ تجارتی

## سوداګریز پور

قرضۀ تجارتی به قرضی گفته می شود که غرض پیشبرد فعالیت های اقتصادی و تجارتی مانند خریداری مواد خام تولیدی، خریداری سایر اموال تجارتی چون (تیل، گندم، لباس، دارو و هر جنس دیگر) به هدف تجارت از داخل و یا خارج، خریداری ماشین آلات تولیدی و پرداخت مصارف عملیاتی فعالیت های تجارتی به کار می رود.

---

سوداګریز پور هغه پور ته ویل کېږي چې د اقتصادي او سوداګریزو کړنو د پر مخ وړلو لپاره د خامو تولیدي موادو د پېرلو، د نورو سوداګریزو مالونو د اخیستلو (تیل، غنم، جامې درمل او بل هر ډول جنس) لپاره په کور دننه او یا هم بهر، تولیدي ماشینونو د پېرلو او د سوداګریزو کړنو د عملیاتي فعالیتونو د لګښتونو د ورکړې په موخه کارول کېږي.

# تویت های اقتصادی

**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Mar 31

د افغانستان بانک د لوی ریاست سرپرست ښاغلی اجمل احمدی د ولسی جرگی له لومړی مرستیال ښاغلی احمد جاوید جیحون سره ولیدل. په دی عونډه کی لومړی د افغانستان بانک د لوی ریاست سرپرست ښاغلی اجمل احمدی، ښاغلی احمد جاوید جیحون ته  د ولسی جرگی د لومړی مرستیال په توگه د ټاکل کیدو مبارکی وویله.



**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Apr 1

محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در جلسه بهاری سالانه صندوق بین المللی پول (IMF-MENAP) که به اشتراک تعداد از رئسای بانکهای مرکزی جهان و وزرای مالیه بگونه آنلاین دایر گردید، روی موضوعات اقتصادی، حالت گذار از وایروس کرونا و تطبیق برنامه های مشترک صحبت نمود.



Ajmal Ahmady and IMF

**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Mar 29

۱۴۰۰ د وری ۹ مه – د افغانستان بانک سرپرست ښاغلی اجمل احمدی د نړیوال بانک له چارواکو سره د آنلاین عونډی په ترځ کی د اسلامی بانکوالی او صکوکو په برخه کی د پرمختگونو په اړه خبری وکړی.



**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Mar 18

د افغانستان بانک به ادامه فراهم آوری تسهیلات، اصلاحات و دیجیتل سازی تادیات کشور، این بار در زمینه اتصال سیستم تادیات بین البانکی با سیستم های عواید و گمرکات وزارت محترم مالیه اقدام نموده و تفاهمنامه ای را در این زمینه امروز پنجشنبه مورخ 28 حوت 1399 به امضا رسانید.



**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Mar 14

۱۳۹۹ د کب ۲۴ مه ـ د افغانستان بانک عالی شورا چی د دی بانک د تصمیم نیولو تر ټولو لوړه مرجع ده، نن یی د ۱۴۰۰ مالی کال لومړنی نوبتی عونډه جوړه کړه.




**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Mar 15

کابل، 25 حوت 1399- هیئت رهبری د افغانستان بانک به سلسلهٔ فراهم آوری تسهیلات و میکانیزه سازی فعالیت صرافان و عرضه کنندگان خدمات پولی، این بار برنامه آموزشی و آگاهی دهی را بمنظور ارتقای سطح آگاهی صرافان و



**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Mar 6

16حوت 1399- جلالتمآب رییس جمهور کشور طی ملاقاتی با محترم اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک گزارش اجراات اخیر د افغانستان بانک در راستای مبارزه با پولشویی و تمویل تروریزم، راهکار های جلوگیری از این پدیده و دستاورد های د افغانستان بانک در این زمینه را استماع نمود.



**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · 20m

15 حمل 1400- محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک طی جلسه ای با سفیر کشور هند مقیم کابل دیدار نموده و روی موضوعات مختلف اقتصادی، روابط تجارتی دو کشور و فعالیتهای بانکی و مالی بحث و تبادل نظر نمودند.



# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک
سال چهاردهم شماره ۱۶۶، حمل ۱۴۰۰




## پول ما، هویت ماست!

**ما برای جلوگیری از مندرس شدن زود هنگام آن در حفظ و نگهداشت اش توجه میکنیم!**

